ورځپاڼه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
دوشنبه د محرم الحرام ۱۱ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۱۶ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۷ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۸۴ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۴۷مه، اتمه دوره

مولوي ذبیح الله مجاهد:
له ټولو هېوادونو سره دوستانه اړیکې غواړو

د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد ویلي، چې اسلامي امارت د خپلې واکمنۍ له پیله په دې هڅه کې و، چې د نړیوالې رسمیت پېژندنې پر وړاندې حقوقي او سیاسي خنډونه له‌منځه یوسي او د روسیې له خوا د رسمیت پېژندلو اقدام د افغانستان د بهرني سیاست د پرله‌پسې خبرو او ډیپلوماتیکو هڅو پایله ده، چې اوس یوه نوي پړاو ته داخل شوی دی. مجاهد له طلوع نیوز سره په مرکه کې ویلي: باید ټول هېوادونه د امریکا پرېکړې ته په تمه نه‌وي. نوموړي له واشنګټنه هم وغوښتل، چې د روسیې په څېر یو زړور ګام واخلي او له کابل سره رسمي تعامل پیل کړي. نوموړی وایي: افغان حکومت غواړي له ټولو هېوادونو سره دوستانه اړیکې ولري او د سیمې او نړۍ تر منځ د نښلون ټکی شي.

د مسکو وروستۍ پرېکړې د افغانستان د اقتصادي ودې هیلې زیاتې کړې

د روسیې له لوري د اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې سره سم، د افغانستان خصوصي سکتور دغه اقدام د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مثبت ګام بولي. دوی په دې باور دي، چې دغه اقدام کولای شي د مالي او سوداګریزو بندیزونو د کمېدو او له نړیوالو سره د تعامل د پراختیا په برخه کې ښه رول ولوبوي. د افغانستان او روسیې ترمنځ دا مهال کلنۍ سوداګري ۳۰۰ میلیونه افغانۍ ده، خو اقتصادي شنونکي هیله من دي چې د مسکو له تازه پرېکړې وروسته به دغه کچه د پام وړ لوړه شي.
۳ مخ

غزني کې د سلطان بند د ساتنې او مراقبت پروژه پرانیستل شوه

په غزني ولایت کې د سلطان بند د ساتنې او مراقبت پروژې چارې د څه باندې ۱۰۹ میلیونو افغانیو په لګښت وړمه ورځ د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزیر ملا عبداللطیف منصور او نورو چارواکو له لوري پیل شوې. د مسئولینو په خبره په دغې پروژه کې د بند لوړوالی ۲.۵متره زیاتېږي، د بند زیانمنې شوې برخې رغول کېږي، پاورهاوس،
۳ مخ

ننګرهار کې سېلابونو ځاني او مالي زیانونه اړولي

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست ویلي: ننګرهار کې پرونیو سېلابونو د دوو ماشومانو د ژوند پر اخیستو سربېره ۲۸۰ کورونه ویجاړ او ۵ زره جریبه کرنیزه ځمکه یې له منځه وړې. یاد ریاست په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي: دغه سېلابونه په ګوشتې، لعلپورې، نازیانو، مومندرې او ښېوې ولسوالیو کې راوتلي دي. د معلوماتو له مخې، دغو سېلابونو
۳ مخ

غزني کې تفریحي پارک جوړېږي

د غزني ولایت د سردې بند په سیمه کې د ۷۰۰ زره امریکایي ډالرو په پانګونه د یوه تفریحي پارک د جوړولو چارې پیل شوې. د اوبو او انرژۍ وزارت وایي، چې دا پارک پر ۱۰۰ جریبه ځمکه جوړېږي. د یوه بل خبر له مخې د اوبو او انرژۍ وزیر عبداللطیف منصور په پکتیکا کې د پلتوني بند پروژې د چارو له بهیر څخه د لیدنې پرمهال د دې بند د رغنیزو چارو پر چټکتیا ټینګار کړی دی. د چارواکو په خبره پلتوني بند به د
۳ مخ

له بلخ څخه په لومړي ځل کورني تولیدات انګلستان ته صادرېږي

د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته په بلخ کې د یو خصوصي شرکت مسئولینو په لومړي ځل انګلستان ته د کورنیو تولیداتو د صادرولو خبر ورکړی دی.د یاد شرکت مسئولینو رسنیو ته ویلي، چې په دې بار کې د ۳۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت ۲۱ ټنه د ځان وینځلو صابون او د لوښو وینځلو شامپو شامله ده، چې د انګلستان پلازمېنې لندن ته صادرېږي.
بله خوا د بلخ د صنعت او سوداګرۍ مسئولینو انګلستان ته په لومړي ځل د کورنیو تولیداتو صادرول د ټول افغان خصوصي سکتور لپاره د نوي فصل د پیلولو په مانا بللي او د هېواد له ټولو صنعتکارانو یې غوښتي، چې په
۳ مخ

یو چینایي شرکت واخان کې د افغانستان او چین ترمنځ ګډ بازار جوړوي



د چین د یوه خصوصي شرکت مشر د بلخ والي سره کتنه کې ویلي: په پام کې لري، چې واخان کې د افغانستان او چین ترمنځ ګډ بازار جوړ کړي. دغه چینایي پانګوال ویلي: له دې بازار جوړولو یې موخه د دواړو هېوادونو د تولیداتو پېر او پلور ته زمینه برابرول دي. د یاد شرکت مسئولینو همداراز ویلي: بېلابېلو برخو کې پانګونې ته چمتووالی لري او دې برخه کې یې خپل پلان د بلخ والي سره شریک کړی. بله‌خوا د بلخ والي له یاد شرکته غوښتي، چې پر خپلو ژمنو عمل وکړي او ډاډ یې ورکړی، چې اسلامي امارت ټولو برخو کې له بهرنیو پانګوالو سره همکاري کوي. دا په داسې حال کې ده،
۳ مخ

د وربښمو پله له لارې د ۶۵ زرو افغانانو راستنېدل

د نیمروز د وربښمو پله له لارې له تېرې یوې اوونۍ راپه دې خوا ۶۵زره افغانان هېواد ته راستانه شوي دي.
د یاد ولایت مقام د رسنیو دفتر په خپله ایکس پاڼه لیکلي: د دې ولایت والي شیخ محمد قاسم خالد په دوامداره توګه د کډوالو د راستنېدو له بهیر څخه لیدنه کوي او د ولایت ټولو مسئولینو ته یې سپارښتنه کړې چې دوی ته اړین خدمات وړاندې کړي. د مسئولینو په وینا: د راستنېدونکو کډوالو د بهیر د مدیریت لپاره یې په دوو شفټونو کې کارکوونکي ګمارلي، ترڅو د دوی د ثبت او تثبیت پروسه ترسره او مالي مرسته ورسره وکړي.
۳ مخ

تېره میاشت د مېرمنو د حقونو اړوندو ۲۷ قضیو ته رسېدنه شوې

د امربالمعروف، نهي عن‌المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې تېره میاشت یې د ښځو د حقونو اړوندو ۲۷ قضیو ته رسېدنه کړې ده. د خبرپاڼې له مخې، د یاد وزارت محتسبینو په ۱۳ ولایتونو کې د ۳۱ شخړو پر حل سربېره په ټول هېود کې ۱۵۶ اصلاحي ولسي غونډې هم کړې دي. دغه راز په بلخ، میدان وردګو، غزني او بدخشان ولایتو کې یې ۴ ماهر کوډګر هم نیولي دي. د یادونې وړ ده، چې د دې وزارت محتسبینو له احتکار، کم وزن خرڅولو او د بې کیفیته توکو د پلور د مخنیوي په موخه له سوداګرو او کسبه‌کارانو
۳ مخ

ننګرهار او بلخ کې شخړې د تفاهم له لارې پای ته ورسېدې

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت وایي، چې د ننګرهار ولایت په نازیانو ولسوالۍ کې د دوو کورنیو ترمنځ نږدې ۳۵ کلنه اوږدمهاله شخړه، د دې وزارت د سیمه‌ییزو مسئولینو، قومي مشرانو، دیني عالمانو او خلکو په همکارۍ هواره شوه. د یادې شخړې له امله دواړو لوریو ته درانه مالي زیانونه اوښتي او دوو کسانو ژوند له لاسه ورکړی و، چې مسئولینو یې ترمنځ
۳ مخ

د ازبیکستان د ۵۰۰ کیلوولټه برېښنا د لېږد پروژې په اړه بحث وشو

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ډاکټر عبدالباري عمر د ازبیکستان د برېښنا له وزیر سره د ویډیو کنفرانس له لارې د ۵۰۰ کېلوولټه برېښنا د لېږد نوې پروژې په تړاو خبرې کړې دي .ښاغلي ډاکټر عمر د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د ګاونډیو او دوستانه هېوادونو په توګه د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا مهمه بللې او د یادې پروژې اړوند د راتلونکو هوکړه‌لیکونو په اړه یې مفصلې خبرې کړې دي. د ازبیکستان د برېښنا وزیر له افغان لوري مننه کړې او ویلي یې دي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اوږدمهالې اړیکې د متقابلو همکاریو دوام ته اړتیا لري او دا نوې پروژه به دغه اړیکې نورې هم ټینګې کړي. ټاکل شوې ده، چې د ازبیکستان د ۵۰۰ کېلوولټه برېښنا د لېږد په دې نوې
۳ مخ

بدخشان کې یو کانال جوړېږي



د بدخشان د خواهان ولسوالۍ اوسېدونکو د ځمکو خړوبولو لپاره د یوه کرنیز کانال د جوړولو چارې پیل کړې دي. دغه کانال ۳۶۰۰۰ هکتاره للمي ځمکه خړوبولی شي او په یوه کال کې د دوو فصلونو لپاره د کرنیزو محصولاتو د ودې زمینه برابرولی شي. د خواهان ولسوالي قومي مشر رحمت‌الله وایي، چې د یادې ولسوالۍ دښتو ته د اوبو په برابرولو سره به په یوه کال کې دوه فصله د غنمو، وریجو او نورو مېوو حاصلات ترلاسه شي. د نوموړي په وینا،
۳ مخ

خوست کې ورزشي کمپلکس جوړېږي

د بدني روزنې او ورزش عمومي رئیس احمدالله وثیق د یاد ورزشي کمپلکس د چارو د پیل مراسمو کې ویلي: د دغه کمپلکس ټول لګښت چې شاوخوا ۴ میلیونه ډالره کېږي د یوه بهر مېشتي افغان له خوا ورکول کېږي. ده وویل: د دې کمپلکس د جوړېدو چارې به ۱۴ میاشتو کې بشپړې شي چې ورسره به بهرنیو لوبغاړو ته هم د لوبو او راتګ زمینه برابره شي. د یاد سپورټي کمپلکس جوړوونکی نجیب‌الله تلاش وایي: دغه کمپلکس به د فوټبال، والیبال او نورو ورزشونو د معیاري لوبغالو ترڅنګ، نورې اسانتیاوې هم ولري او دغه اقدام یې د سپورت د ودې او پراختیا لپاره کړی دی. ده وویل: پخوا خوست کې
۳ مخ

د صنعتي بنسټونو او کورنيو توليداتو د پياوړتيا هڅې!!

افغانستان چې له اوږدو جګړو، سياسي بې ثباتيو او اقتصادي محدوديتونو راوتلی، اوس د ځان بسياينې، توليد او پايدار پرمختګ پر لور عملي ګامونه اخلي. په دې لړ کې د صنعتي بنسټونو پراختيا، د پانګوالو ملاتړ او د کورنيو توليداتو پياوړتيا د هېواد د اقتصادي لوري مهمه برخه ګرځېدلې ده. په همدې شپو او ورځو کې د هرات په صنعتي ښارګوټي کې د پنځم فاز پرانيستل د افغان حکومت له خوا د دې سترې موخې يوه ژوره نښه ده. دا پروژه نه يوازې د پانګونې، توليد او صنعت د پراختيا لپاره نوې نوې هيلې را ټوکوي، بلکې د اقتصادي ثبات، اداري اصلاحاتو او ملي متحرک سکتور د راژوندي کېدو نوې دروازې هم پرانيزي. اوس، چې افغانستان د اقتصادي ودې، ځان بسياينې او د صادراتو د پراختيا پر لور ګامونه اخلي، د هرات صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز پرانيستل، د دغه هدف پر لور يو مهم، عملي او هراړخيز اقدام ګڼل کېږي. دا پرمختګ نه يوازې د پانګوالو او صنعتکارانو د هڅونې يو ښکاره پيغام دی، بلکې د افغانستان د اسلامي امارت ژمنتيا هم انعکاسوي، چې غواړي هېواد له وارداتي اقتصادي انحصار څخه خلاص او د کورني توليد پر محور وڅرخوي. د رياست الوزراء د اداري مرستيال له لوري د صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز د پرانيستې او څلورم فاز کې د ځمکو د ملکيت اسنادو د وېش مراسم، په مستقيمه توګه د حکومت له لوري د پانګوالو او صنعتپالانو پر وړاندې د باور، ثبات او همکارۍ ژور تعهد څرګندوي. دا اقدام نه يوازې دا ښيي، چې اسلامي امارت د پانګوالو ملاتړ ته ژمن دی، بلکې دا هم جوتوي، چې حکومت غواړي اقتصادي بنسټونه پراخ او بنسټيز کړي. د مولوي عبدالسلام حنفي هغه ټينګار، چې وايي: بايد د داخلي محصولاتو کيفيت لوړ شي، له اقتصادي پلوه ډېر ستر اهميت لري. د کيفيت لوړول نه يوازې د بازار اعتماد ترلاسه کوي، بلکې داخلي توليد ته دوام، ارزښت او بازار موندنه هم برابروي. هغه کسان چې بې کيفيته توکي واردوي يا توليدوي، بايد د قانون په رڼا کې مجازات شي، ځکه چې دا کار د مصرفوونکو له اعتماد سره مستقيم ټکر لري. د صنعت د پراختيا تر څنګ، د انساني او اسلامي ارزښتونو درناوی هم په دې مراسمو کې جوت و، ښاغلي حنفي له شتمنو او ملي تاجرانو وغوښتل، چې له راستنو شويو افغانانو سره مرسته وکړي. دا غوښتنه د اقتصادي پرمختګ ترڅنګ د اجتماعي يووالي او انساني مسئوليتونو يوه څرګنده بېلګه ده، چې بايد د ټولنې د هر قشر له خوا غبرګون ورته وښودل شي. له بل پلوه، د هرات پوهنتون د انجنيري پوهنځي د نندارتون ستاينه، د حکومت علم‌محورو سياستونو ته اشاره کوي. دا ډول نندارتونونه محصلينو ته دا زمينه برابروي چې خپل استعدادونه، ابتکارات او علمي توليدات وړاندې کړي. دا کار د نوي نسل د ظرفيت لوړولو، د عملي تجربو پراخولو او د توليدي ذهنيت د روزنې لپاره خورا ارزښتناک دی. په ټوله کې د صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز پرانيسته يوازې يوه تشريفاتي پېښه نه ده، بلکې دا د اقتصادي، اداري، ټولنيزو او علمي پرمختګونو د لړۍ يوه مهمه کړۍ ده. دا اقدام ښيي چې اسلامي امارت غواړي د داخلي توليد بنسټونه پراخ، پانګوالو ته اسانتياوې برابرې او د هېواد اقتصادي خپلواکۍ ته لاره هواره کړي. د هرات صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز پرانيسته يوازې يو انکشافي اقدام نه، بلکې د اسلامي امارت د اقتصادي ليدلوري يو ژور انعکاس دی، چې موخه يې د هېواد د توليد، پانګونې او صنعتي ځان‌بسياينې تقويه کول دي. دا پروژه نه يوازې د خصوصي سکتور هڅونه او د پانګوالو باور لا پياوړی کوي، بلکې د اداري اصلاحاتو، د باکيفيته توليداتو د ترويج او د بشري منابعو د نوښتونو د ملاتړ عملي بېلګه هم ده. له شک پرته، که دغه لړۍ په همدې روحيه او ژمنتيا سره دوام ومومي، نو افغانستان به ډېر ژر د سيمې له مهمو اقتصادي لوبغاړو څخه شي. اوسنی فرصت بايد ټول ملت، پانګوال، متخصصين او محصلين د يو ګډ مسئوليت په توګه وکاروي، ترڅو د هېواد د اقتصادي ودې بنسټونه نور هم ژور او افغانستان د صنعتي ځواک په توګه راڅرګند شي.

د سپېڅلې لارې د شهيدانو ياد دې تل ژوندی وي

شاه محمود دروېش

په ټوله کې د اسلامي نړۍ ځلاندو تاريخي پړاوونو ته که نظر وشي، دا حقيقت ترسترګو کېږي چې اصحابو کرامو، امامانو او مسلمينو د کفارو او مشرکينو په وړاندې سرښندونکې مبارزې کړې، مالي او ځاني زيانونه يې زغملي او د اسلام د سپېڅلي دين په لاره کې هم په بشپړه رښتينولۍ اومېړانتوب جنګېدلي او شهيدان شوي دي، چې روښانه بېلګه يې په ۶۱ هجري سپوږميز کال د باطل پروړاندې د کربلا په جګړه کې د حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د لمسي حضرت امام حسين (رض) مظلومانه شهادت دی چې د عاشورا په ورځ يې ځان قرباني کړ. البته په دغې ورځ د کربلا سپهسالار حضرت امام حسين (رض) پرباطل د حق د برلاسي کولو لپاره په مبارزه کې له خپلو « دوه اويا » تنو يارانو سره يو ځای د شهادت جامونه وڅښل. که څه هم حضرت امام حسين (رض) له ځلميتوب څخه په دې پوهېده چې د اسلام مبارک دين د حق اوعدالت دين دی او حضرت امام حسين (رض) د دغه سپېڅلي دين د زياتو ښېګڼو په هکله خلکو ته تبليغ کاوه، د اسلام او د خپلو نيکونو او کورنۍ د دښمنانو له ناروا

څخه ډېراندېښمن وو، خو کله چې يزيد بن معاويه سلطنت ته ورسېد، نو په نامطلوبه توګه يې د اسلام احکام د ټولنې په

منځ کې خلکو ته وړاندې کول چې په دې باب هره ورځ ډله ډله خلک حضرت امام حسين (رض) ته د شکايت لپاره ورتلل اويزيد بن معاويه هم له امام حسين (رض) څخه د بيعت غوښتنه کوله، خو دغه حضرت پر باطل د حق د برلاسي په لاره کې مبارزې ته په سرښندونکې توګه چمتو و او بالاخره حضرت امام حسين (رض) د خپلو پلويانو پروړاندې په کربلا کې د حق او حقيقت د سپېڅلې مبارزې لپاره اوږدې ويناوې وکړې او هغوی

ته يې خپل هدفونه څرګند کړل او دايې هم ورته وويل: هغه څوک چې نه غواړي د حق په لاره کې په شهادت ورسېږي، نو

کولای شي چې د شپې په تياره کې چې څوک يې ونه ويني له دې ځايه ولاړ شي، خو کله چې شپه شوه، نو ګڼ شمېر خلک چې ايمان او عقيده يې کمزورې وه، د حضرت امام حسين (رض) له ليکو څخه په هماغې شپه تللي وو او يوازې دوه اويا تنه د اسلام د سپېڅلي دين پتنګان چې د اسلام د سپېڅلي دين د پياوړې عقيدې او بشپړ ايمان خاوندان وو، د هغه حضرت په خوا کې د يزيد د لښکرو پروړاندې په ډېرې مېړانې سره ترهغه وخته

پورې وجنګېدل ترهغو چې يې د ۶۱ هجري سپوږميز کال د محرم الحرام د مبارکې مياشتې په لسمه نېټه د شهادت جامونه وڅښل، نو دغه ورځ له پېړيو څخه راپه دې خوا د نړۍ د مسلمانانو له خوا په ځانګړو مراسمو لمانځل کېږي او په دې ډول د اسلام د ژغورنې او د حق او عدالت په لاره کې د هغه د فداکارۍ، سرښندنې، ځان تېرېدنې او سپېڅلي شهادت يادونه کوي.
هېره دې نه وي، د شهيد د کلمې په هکله هم بايد وويل شي، چې د شهيد او شهادت کلمه ډېره سپېڅلې ده او هغه چاته شهيد ويل کېږي چې د اسلام په لاره کې د يو سپېڅلي هدف لپاره يې خپل ځان قرباني کړی وي، شهيد ځينې ځانګړتياوې هم لري. لومړی دا چې په يوه سپېڅلې لاره کې په شهادت رسېږي، دويم دا چې شهيدان نه مري. دا په دې معنی چې هغه تل ژوندي دي او کارنامې يې د ولسونو په زړونو کې د تلپاتې يادښت وړ دي، لکه څنګه چې ويل شوي دي: هدف بايد سپېڅلی وي، توپير نه کوي که هغه ستر وي يا کوچنی، ځکه کېدای شي چې ممکن يو هدف او مقصد ډېر ستر او با ارزښته وي، خو

سپېڅلی نه وي، د بېلګې په ډول سکندر چې د ټولې نړۍ د نيولو هيله يې درلوده او د همدې مقصد لپاره يې هڅه کوله، نو واقعاً، چې هدف يې ستر او لوی و، خو سپېڅلی نه و او عالي هم نه و، نو څوک چې په دې لاره کې ووژل شي، د خلکو په وړاندې احترام او سپېڅلتيا نه لري، ځکه چې سکندر د خپلې ځان غوښتنې دايره (کړۍ) لويه کړې وه، نو داسې اشخاص چې هر څومره ملکونه تسخير کړي، د دوی عمل هېڅ سپېڅلتيا او احترام نه پيداکوي، هدف هغه وخت سپېڅلی وي چې هر ډول عمل او موخه له ځان غوښتنې څخه بهر وي او د هر ډول تکليفونو زغم بايد د بشريت د هوساينې او له خپل همنوع سره د خواخوږۍ لپاره وي، پردې بنسټ شهيد هغه دی چې د هغه ټولې هڅې او کړنې د دندې او مکلفيتونو د ترسره کولو، د پت، عزت او شرافت د ساتلو، د دين د خپرولو او حفاظت لپاره وي، نه د خپلو مادي ګټو او شخصي منفعتونو لپاره.
البته دې ټکي ته مو هم بايد پام وي چې شهيدان په حقيقت کې د تاريخ ستوري دي، چې ټولنه رڼا کوي. واقعاً

۳ مخ

افغانستان او نړیوال تعامل؛ د رسميت پېژندنې لومړنې ګامونه

شېرمحمد اميني ستانکزی

د افغانستان زړور، ځوربدلی او کړېدلی ملت، چې له کلونو جګړو، بحرانونو او ناورينونو څخه تېر شوی، نن ورځ يو تاريخي پړاو ته رسېدلی؛ داسې پړاو، چې هېواد يې د پرمختګ، ثبات او نړيوال مشروعيت له نويو هيلو سره مخ شوی دی.
له هغه مهاله چې اسلامي نظام په هېواد کې حاکم شو او د اشغال کرغېړن فصل ته يې د پای ټکی کېښود، نو افغانان د دغه نظام د ودې او پرمختګ په تمه دي.
سره له دې، چې پرته له روسيې تر اوسه د نړۍ ډېرو هېوادونو آن اسلامي او ګاونډيو هېوادونو د افغانستان اسلامي امارت په رسميت نه دی پېژندلی، خو اوس داسې ښکاري، چې دا حالت په بدلېدو دی.
د روسيې فدراسيون له وروستيو اقدامونو سره دا هيله لا زياته شوې ده. روسيه د نړۍ له هغو لويو قدرتونو څخه ده، چې لومړی يې د افغانستان اسلامي نظام ته مشروعيت ورکړ او د رسمي تعامل لاره يې ورسره غوره کړه. دا نه يوازې يو تاريخي ګام دی؛ بلکې د نړيوال سياست پر ميز يې د افغانستان د نوي فصل د پيل نښه وګرځوله.
روسيې په څرګنده او زړورتيا سره وښووده، چې د افغانستان اسلامي امارت يو واحد، باثباته او ولس ته منلی نظام دی او د نړيوالو تعامل وړتيا لري .
دغه نېک اقدام به ان شاءالله د نورو هېوادونو لپاره هم يوه بېلګه وي، څو د تعامل او همکارۍ پر بنسټ له افغانستان سره خپلې اړيکې پراخې کړي.
د افغان ولس له پخوا راهيسې دا هيله وه، چې نړيوال هېوادونه له اسلامي امارت سره د تعامل لاره غوره کړي، څو له دې لارې سوداګريزې راکړې ورکړې، پانګونې، تعليمي، تخنيکي او بشري مرستې بېرته راژوندۍ شي. افغانان اوس هم د اقتصادي ستونزو او بېکارۍ له امله له ډېرو ننګونو سره مخ دي او نړيوال تعامل به د دغو ننګونو په حل کې مهم رول ولوبوي.
اوس نړۍ ته دا هم روښانه شوې، چې د افغانستان اسلامي نظام نه يوازې له ولس سره ښه سلوک کوي؛ بلکې د نړيوالو اصولو او ارزښتونو مراعات يې هم کړې دی.
د تېرې نيمې پېړۍ د ناکامو او پردي پلويو حکومتونو پر خلاف د افغانستان اوسنی حاکم نظام خپلواک او د ولسي ملاتړ او ديني ارزښتونو پر بنسټ ولاړ دی.
د اسلامي امارت پر وړاندې له سياسي محدوديتونو سره سره،

ډېرو هېوادونو په کابل کې خپل سفارتونه بېرته فعال کړي دي او همداراز دوی په بهرنيو هېوادونو کې خپل سفارتونه او سياسي قونسلګرۍ پرانيستي دي، چې دا د رسميت پېژندنې لومړني ګامونه دي.
تمه ده، چې ژر به دا تعاملات پراخ شي او افغانستان به د نړيوالو په منځ کې يو ځل بيا د خپلواک، متعهد او باثباته هېواد په توګه وپېژندل شي. ان شاءالله

امارت اسلامی افغانستان با دیپلوماسی فعال روابط سیاسی و اقتصادی خود را میان کشور ها برقرار کرده است

مجتبی

سرپرست وزارت امورخارجه امارت اسلامی افغانستان در دیدار با سفیر روسیه،اقدام این کشور را برای به رسمیت شناختن امارت اسلامی افغانستان جسورانه توصیف کرد و گفت: امارت اسلامی افغانستان از این تصمیم روسیه استقبال می کند و آنرا فصل جدیدی از روابط مثبت و احترام متقابل و تعامل سازنده میان دو کشور دانست. در این دیدار سفیر روسیه به طور رسمی تصمیم حکومت کشورش مبنی بر به رسمیت شناختن امارت اسلامی افغانستان را ابلاغ کرد، وی اهمیت این تصمیم را بر جسته ساخت و آنرا گام تاریخی در جهت تقویت روابط میان افغانستان و روسیه خواند. در این دیدار مولوی امیرخان متقی سرپرست وزارت امور خارجه ابراز خرسندی نموده و گفت که کشور های دیگر نیز از این اقدام روسیه باید پیروی کنند. وی افزود: امارت اسلامی

افغانستان به دنبال سیاست خارجی متوازن و روابط مثبت با تمام کشور های جهان است، امارت اسلامی به ثبات و امنیت سراسری توجه خاصی دارد و در حوزه سیاست خارجی نیز به موفقیت دست یافته است. وی علاوه نمود: امارت اسلامی افغانستان توانسته به کشور هایی که به آنان نیاز دارند، دیپلومات بفرستد و شماری از کشور ها نیز سفیران امارت اسلامی را پذیرفته اند.
امارت اسلامی افغانستان خواستار تعامل با تمام کشور ها می باشد، به هیچ گروهی اجازه استفاده از خاک این کشور علیه هیچ کشوری را نمی دهد، وضعیت امنیتی این کشور بهبود یافته است و گروه های تروریستی هیچ وجود ندارد، از این جهت هیچ نوع تهدید متوجه کشور های منطقه بخصوص کشور های همسایه نیست.امارت اسلامی افغانستان با دیپلوماسی فعال،روابط خوب سیاسی ،اقتصادی و فرهنگی را با کشور های منطقه و برخی کشور های جهان برقرار کرده است، که ما شاهد سفرها و حضور گسترده دیپلومات های کشور های خارجی به افغانستان هستیم که در این اواخر افزایش یافته است ،کشور ها این را درک کرده اند که یگانه راه بهتر و سازنده تعامل با امارت اسلامی می باشد و بس.
یک تعداد کشور ها این را درک کرده اند که یگانه راه معقول و مفید تعامل با افغانستان است و دوری بعضی کشور ها از افغانستان نشان دهنده مشکل در پالیسی همان کشور ها می باشد و حضور گسترده دیپلومات های کشور های خارجی به افغانستان اثر گذار بوده است.
مسئولین امارت اسلامی افغانستان به خارج از کشور رفت و آمد دارند و در مورد موضوعات مختلف نشست ها برگزار می کنند، خوشبختانه که یک نوع رغبت و تعامل کشور ها به افغانستان بهتر شده است.
بدون شک که کشور ها این را درک کرده اند که تعامل با افغانستان یگانه راه مفید است و فاصله گرفتن بعضی از کشورها نشان دهنده مشکل در پالیسی آنان می باشد.
امارت اسلامی افغانستان هیچگاه در روابط خود با کشور ها مشکل ندارد و خواهان برقراری روابط دیپلوماتیک با همه کشور ها می باشد.این در حالیست که در این اواخر حضور گسترده و سفر های مقامات بلندپایه کشور های خارجی به داخل افغانستان افزایش یافته است.

صفحه ۳

افغان اعلانات

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مصطفی فرزند محمد داود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سمیع الله خلیل زاد فرزند طلب الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی فاطمه وزیری بنت نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حکمران احمدزی فرزند عجب خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیبا عزیزی بنت رحمت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هجرت الله مرزادی فرزند حبیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ثمینه میرزا بنت محمد نجیب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم الناز صدیقیار فرزند یورش مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ابراهیم کوهی فرزند قوشه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۳۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مطفی قریشی فرزند حمید الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۳۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمید الله قریشی فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ادریس عزیزی فرزند محمد نعیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۴۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مرجان حکیمی بنت محمد رفیع مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۱۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رفیع حکیمی فرزند محمد اسماعیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۱۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلما حکیمی بنت محمد واسع مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مجتبی خوارزمی فرزند برات علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۱۳۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله عمری فرزند عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۳۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحمید ترکمن فرزند عبدالمجید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۲۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسم الله نوری فرزند شیر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۲۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالصبور حسینی فرزند حسین شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۲۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امید نبیل فرزند عبداللطیف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۲۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسام الدین فرزند محمد مراد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۵۷۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم الیاس سروری فرزند محمد اسلم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۱۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد حسین قمبری فرزند عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۲۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کمین ارصلانی فرزند ارصلاح خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذبیح الله ایوبی فرزند میرزاجان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله عزیزی فرزند عبدالعزیز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله فتح زاده فرزند حفیظ الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۱۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیما سلطانی بنت محمد ذکی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۱۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وکیل فرزند احمد آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عباس ابراهیمی فرزند عبدالاحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زاهد الله رفیع زاده فرزند عزیز الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نقیب الله امیری فرزند ثناگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۹۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی اصغر کریمی فرزند موسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم آرین مومند فرزند جانداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۰۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد خدای فرزند محمد عظیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۹۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسم الله مرادی فرزند خدایداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۹۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اباسین سعادت فرزند فدا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۹۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میران شاه احمدی فرزند احمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۵۰۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سیاموی صدیقی بنت سید آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل ولی بارکزهی فرزند تاج محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله سروری فرزند جمعه گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلیمان میلمه وال فرزند محمد ایوب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید حمد علی آغا فرزند سید محمد عثمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۷۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمنان رحمانی فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۹۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد سیر سرفراز فرزند جمشید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدیر خان دلسوز فرزند بهاوالدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسنا صافی فرزند قطب الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جاوید نظرانی فرزند احمد شیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۷۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اول گل احمدزی فرزند محمد گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۷۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی جاوید سجادی فرزند سید یاسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۷۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل نور شاهین فرزند عجب نور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۷۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالوهاب پناهی فرزند محمد موسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۷۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیاض صالح فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۷۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رحمان زیار فرزند لاجبرخان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۶۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کمال الدین موسوی فرزند حسام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۶۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شعیب امان فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۶۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رضا مهدی فرزند ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۶۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اولیا خان شیرزاد فرزند قبات خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۶۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خالدار فرزند عبدالرقیب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۶۵

اطلاعیه مفقودی
یک قطعه قباله شرعی نمبر ۲۴۷/۲۲۰ سال ۱۳۰۲مرتبه محکمه مرافعه ولایت پنجشیر زمین واقع ولایت پنجشیر ولسوالی رخه قریه مرگی شصت به اسم میر صاحب فرزند کبیر احمد ولدیت مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۹

اطلاعیه مفقودی
یک قطعه ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی نمبر ۲۰۷/۱۰۱۵ مورخ ۱۳۹۷/۱/۹ به اسم عبدالروف سکندری فرزند شهسوار و محترمه پیغله جمیله بنت عبدالرزاق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۴۲

دعوت به دواطلبی باز ملی
{تهیه قرطاسیه باب و لوازم دفتری-
{NExA/1404/NCB/G-002

اداره ملی امتحانات از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (تهیه قرطاسیه باب و لوازم دفتری) این اداره اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوط را در فلش دسک (حافظه) طوری رایگان از مدیریت عمومی تهیه وتدارکات اداره ملی امتحانات کوچه یفتالی ها،عقب سیتی سنتر،سرک سابقه وزارت امور داخله ، ناحیه چهارم- کابل بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۹:۰۰) قبل از ظهر روز (دوشنبه) مورخ (۱۴۰٤،۰٥،۰٦) به شعبه مدیریت عمومی تدارکات، منزل سوم تعمیر اداری ارائه نماید. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشند.

تضمین آفر بصورت (بانک گرنتی) مبلغ (۵۸۰۰۰) پنجاه و هشت هزار افغانی بوده، و جلسه آفرگشائی به روز (دوشنبه) مورخ (۱٤۰٤،۰٥،۰٦) ساعت (۰۹:۰۰) قبل ظهر در شعبه مدیریت عمومی تدارکات تدویر میگردد.

اطلاعیه تقرری
قرار است محترم فیض محمد فرزند محمد ایوب دارنده تذکره شماره (۵۹۶۵۴-۰۴۰۰-۱۴۰۴) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسوولیت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.۱۶۴

اطلاعیه فروش موتر
اسامی محترم شرکت همراز لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۱۹۲۳-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالعلیم فرزند عبدالعزیز بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۳۸

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه
محترم عبدالواحد احمدیار فرزند عبدالاحمد دارنده تذکره نمبر (۳۹۲۴۰ - ۰۲۰۱ - ۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت جوزجان مالک امتیاز دواخانه واحد احمدیار واقع ولسوالی آقچه ولایت جوزجان طی درخواستی به مقام محترم معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد انور مرادی فرزند ملا جمعه مرادی ولدیت قربان دارنده تذکره شماره (۰۹۰۶- ۰۲۰۱ - ۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت جوزجان گردیده است .
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۱۳۵

اطلاعیه انتقال سهم
قبلا آمریت عمومی نظارت از موسسات مالی غیر بانکی جواز شماره DAB/۱-۰۵۵۲ را به اسم شرکت صرافی خدمات پولی اوریاخیل را به سهامت آقایان هر یک عبدالفتاح اوریاخیل و امر الله اوریاخیل در دکان شماره ۱۳ منزل اول مارکیت سرور دارنی سرای شمالی ناحیه ۱۱ ولایت کابل صادر نموده بود.
اکنون حسب مکتوب جداگانه سهمداران شرکت متذکره میخواهند که فعالیت های صرافی و خدمات پولی را ترک پیشه نماید.۱۶۱

د مسکو وروستي پرېکړې...
د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړی، خانجان الکوزي وایي: ((په داسې حال کې چې افغانستان له ګڼو ننګونو سره مخ دی؛ له سیاسي پلوه بانکونه بند دي، ستونزې شته او لوېدیځ هم بندیزونه لګولي، د یوه سیمهییز قدرت له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه ډېره مثبته اغېزه لري. موږ باور لرو، چې دا به له سیاسي او اقتصادي پلوه د اسلامي امارت او د افغانستان د خلکو په ګټه وي.))
د اقتصادي چارو شنونکي وایي: د روسیې په څېر له اغېزناکو هېوادونو سره تعامل کولای شي د بنسټیزو پروژو په ودې، کارموندنې او په هېواد کې د بې وزلۍ په کمېدو کې مهم رول ولوبوي. د اقتصادي چارو شنونکی، عبدالظهور مدبر وایي: ((دا چې سرچینې یوازې یوه جغرافیه کې نه دي، نو اړینه ده چې هېوادونه له یو بل سره اقتصادي، سیاسي او ستراتېژیکې اړیکې ولري. دا تعامل به د ټولو بشکېلو هېوادونو په ګټه وي. د حاکم نظام د رسمیت پېژندنې په ګډون د هېوادونو ترمنځ اړیکې باید واضح او تعریف شوې وي. که نور هېوادونه هم له روسیې پیغام واخلي، دا به زموږ او نورو ښکېلو هېوادونو لپاره ګټور وي.)) د اقتصادي چارو بل شنونکی، عبدالشکور هدډه وال وایي: ((سیاست پر اقتصاد ډېره اغېزه لري. څومره چې د اسلامي امارت سیاسي او ډیپلوماتیکې اړیکې له نورو هېوادونو سره ښې وي، په هماغې کچه به اقتصادي اړیکې هم پراخې شي او له دې سره به د هېواد اقتصاد وده ومومي. په پایله کې به زرګونو خلکو ته د کار زمینه برابره شي.)) که څه هم روسیې تر اوسه په افغانستان کې پانګونه نه ده کړې، خو د انجنیرۍ او تېلو د استخراج په برخو کې د دغه هېواد تخنیکي وړتیاوو ته په پام سره، اوس د کابل او مسکو ترمنځ د عملي همکارۍ هیلې زیاتې شوې دي.

غزني کې د سلطان بند...
د اوبو وتلو پایپونه، دروازې، پرچاوې او چکسانسورونه جوړېږي. همداراز د بند پر محور لمریز ګروپونه او د ساتونکو ودانۍ هم رغول کېږي. د چارواکو په خبره یاده پروژه به په یوه کال کې بشپړه شي او له امله به یې د بند لوړوالی ۳۷.۵ مترو ته ورسېږي، د اوبو زېرمه به له ۹ میلیونه څخه ۱۳ میلیونه متره مکعبو ته لوړه شي او شاوخوا ۱۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه به خړوبه شي.

ننګرهار کې سیلابونو...
له ټولو ډېر زیانونه ګوشتې ولسوالۍ کې اړولي چې د ۲۵۰ کورونو پر ویجاړېدو سربېره یې نږدې ۳زره جریبه کرنیزه ځمکه هم له منځه وړې. خبرپانه کې ویل شوي: ورکړل شوې شمېرې ابتدایي دي او د لا زیاتو زیانونو احتمال شته. ځایي چارواکي وایي، سیمې ته یې د ژغورنې ټیمونه استولي دي.

غزني کې تفریحي...
چارو له بشپړېدو وروسته د ۲۵ میلیونه متره مکعبو اوبو د زېرمه کولو او د نږدې یو مېګاواټ برېښنا د تولید وړتیا ولري.

له بلخ څخه په لومړي...
لوړ کیفیت تولیدات ولري.د ویلو وړ ده، چې د وینځونکو توکو دغه تولیدي شرکت له دې مخکې خپل تولیدات ازبیکستان او تاجکستان ته صادرول، خو دا لومړی ځل دی چې خپل تولیدات یو اروپایي هېواد ته صادروي.

یو چینایي شرکت واخان...
چې له دې وړاندې امریکایي رسنیو خبر ورکړی و، چې د اسلامي امارت چارواکي هڅه کوي د واخان لرې پرته سیمه په لوی سوداګریز مرکز بدله کړي.

د ورېښمو پله له لارې ...
د ویلو وړ ده، چې د اسلامي امارت او ملي سوداګرو له لورې راستنو شویو کډوالو ته درې وخته خوراک او څښاک هم برابر شوی دی.

تېره میاشت د مېرمنو...
سره ۳۸ اصلاحي ناستې کړې دي. همدارنګه له دیني علماوو، قومي مشرانو، ځوانانو، مجاهدینو، اداري کارکوونکو او په ولایتونو کې له سیمهییزو مسئولینو سره ۱۱۸ ګډې ناستې شوې دي.

ننګرهار او بلخ کې ...
د خیر فیصله وکړه او دواړه خواوې د سولې او ورورولۍ فضا ته راوګرځېدې.
له بلې خوا، د بلخ ولایت د مرکز مزارشریف ښار "بابه یادګار" سیمه کې د ځمکې د ملکیت پر سر د دوو کورنیو ترمنځ ۲۰ کلنه شخړه هم د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو ریاست د استازو او قومي مشرانو په منځګړیتوب هواره شوه او دواړو لوریو د مشرانو پرېکړه ومنله او یو بل ته یې د ورورولۍ غاړې ورکړې. همداراز د مزارشریف ښار نهمې ناحیې کې د دوو قومونو ترمنځ دوه کلنه شخړه، چې د کورنۍ تاوتریخوالي له امله رامنځته شوې وه، د سیمه ییزو مشرانو په هڅو حل شوه او دښمني په دوستۍ بدله شوه. د یادو شخړو د هوارېدو په غونډو کې امارتي مشرانو خلک یووالي، ورورولۍ او د ستونزو د سولې له لارې د حل هڅو ته هڅولي او ژمنه یې کړې، چې اسلامي امارت به د ولسونو تر څنګ د هرې کوچنۍ او سترې ستونزې د حل لپاره ولاړ وي.

د ازبکستان د ۵۰۰ کیلو...
پروژه کې پانګونه وکړي، چې له لارې به یې تر ۸۰۰ مېګاواټه برېښنا پلازمېنې کابل او ختیځو ولایتونو ته انتقال شي. یاده دې وي، چې افغانستان دا مهال له ازبیکستان ، ترکمنستان، تاجکستان او ایران څخه برېښنا واردوي، خو د کورني تولید د پراختیا لپاره د تېرو لسو میاشتو پر مهال ګڼ عملي ګامونه اخیستل شوي، چې د انرژۍ په برخه کې د پام وړ پرمختګ بلل کېږي.

بدخشان کې یو ...
دغه کانال لس کیلومتره اوږدوالی لري او پنځه کیلومتره به یې، د ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت یو قراردادي شرکت جوړ کړي او پاتې پنځه کیلومتره به یې د سیمې د اوسېدونکو له لوري ورغول شي. د خواهان ولسوالي اوسېدونکي له حکومت او ملي او نړیوالو موسسو غواړي، چې د مالي سرچینو د برابرولو برخه کې همکاري ولري، ترڅو وکولای شي، د هېواد یوه برخه اباده کړي. بدخشان کې له دې وړاندې هم د سیمې د اوسېدونکو له لوري د دوی په شخصي لګښت روغتیایي مرکزونه، لارې او سړکونه رغول شوي دي.

خوست کې ورزشي...
داسې ځای نهو، چې له نورو هېوادونو او یا نورو ولایتونو څخه لوبغاړي راشي او دلته لوبې وکړي، خو زیاتوي چې د دې کمپلکس په جوړېدو به یاده ستونزه حل شي. د خوست اوسېدونکي او لوبغاړي هم د دې کمپلکس جوړېدل د ورزش برخه کې یو ښه ګام بولي او په خبره یې، په دې سره به د هېواد د بېلابېلو ولایتونو د لوبغاړو ترمنځ د سیالیو زمینه برابره شي. د بدني روزنې او ورزش ریاست د معلوماتو پر بنسټ، دامهال ټول هېواد کې ۱.۳ میلیونه لوبغاړي په بېلابېلو برخو کې په ورزش بوخت دي.

د روسیې له لوري د افغانستان...
دا پرېکړه ستایلې او د دواړو هېوادونو د اړیکو رغولو په برخه کې یې ګټوره بللې ده. ورته مهال د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف له یوې روسي رسنۍ سره په مرکه کې ویلي: د افغانستان اسلامي امارت د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوي او له ترهګرۍ سره مبارزه کې پراخې هڅې کړې، چې له امله یې موږ حکومت په رسمیت وپېژانده.باور دا دی، چې د روسیې له لوري د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندل به نور هېوادونه هم وهڅوي، تر څو په دې برخه کې ګامونه پورته کړي.

هرات او نیمروز کې...
او د نیمروز د ورېښمو پله له لارې ۶۵زره افغانان هېواد ته راستانه شوي.

پکتیا کې د یوه روغتون...
د عامې روغتیا رئیس ډاکټر معراج ګل عادل وویل: د جانیخېلو روغتون نوې ودانۍ به ټولې ۳۲ خونې، دوه عملیاتخانې، دوه لابراتوارونه او نورې اړینې اسانتیاوې ولري. د جانیخېلو اوسېدونکي هم خوښي څرګندوي چې د روغتون د ودانۍ جوړېدو چارې بیا پیل شوې. دوی غوښتنه کوي چې د روغتون د ودانۍ په بشپړېدو سره دې ورته مسلکي ډاکټران، درمل او نورې اسانتیاوې هم برابرې شي. د عامې روغتیا وزارت مسئولین همدارنګه وایي چې د هېواد په کچه یې د لسګونو نیمګړو پاتې پروژو چارې بیا پیل کړې دي.

لوګر کې پر ۵۱ زرو ...
توکو په وېش سره به په ښوونځیو کې د کتابونو او درسي توکو ستونزه تر ډېره راکمه شي. هېره دې نه وي چې له دې وړاندې هم د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق(UNICEF) له لوري د لوګر ښوونځیو سره د کتابونو او درسي توکو مرسته شوې وه.

افغاني سرې میاشتې ټولنې...
کورنیو د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته ووېشل شي. هېره دې نه وي چې له دې وړاندې هم میدانوردګو کې د حکومت او یو شمېر موسسو له لوري پر سېلابځپلیو کورنیو ورته مرستې ووېشل شوې دي.

ډنډپټان سرحدي...
د یادې پروژې لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودجې څخه ورکړ شوی او چارې یې د یوه افغاني شرکت له لوري ترسره شوې دي.

بدخشان کې ښوونځي...
نذیري وویل، چې په یاده پروژه کې د سیمې یو شمېر اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.
ده ویلي چې د یادې ودانۍ په جوړېدو سره شاوخوا ۴۰۰ زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپېریال برابرېږي.

د هېواد ۱۷ولایتونو کې ...
اندازه په بېلابېلو سیمو کې له ۱۰ تر ۴۵ ملي مترو او د بادونو چټکتیا بیا له ۵۰ تر ۹۵ کیلومتره په ساعت کې اټکل ورکړی دی.

کونړ کې ۳۵ پراختیایي ...
قدرت الله ابو حمزه، سیمه ییزو مسئولینو او ګڼ شمېر ولسي خلکو پکې ګډون درلود. په پیل کې د کونړ والي مولوي قدرت الله ابو حمزه وویل چې د اسلامي امارت له لوري ډیورنډ کرښې ته څېرمه د خلکو د ستونزو د حل لپاره دا ډول پروژې یو مهم او ارزښتناک ګام دی. ده زیاته کړه: موږ تل د خپل ولس غوښتنو ته لبیک وایو او ژمن یو چې په بنسټیزو برخو کې خپلو خلکو ته باکیفیته خدمتونه وړاندې کړو. وریسې د سرحدي څېړنې معین مولوي محمد اسماعیل غزنوي څرګنده کړه چې د کونړ ولس د اسلامي نظام د بریا او ثبات په برخه کې نه هېرېدونکې خدمتونه ترسره کړي، نو د اسلامي نظام مسئولین هم ژمن دي چې د ولس د اخلاص او قربانیو قدرداني وکړي او بنسټیز خدمات ورته ورسوي. نوموړي زیاته کړه چې له نورستان وروسته، نن لله الحمد په کونړ ولایت کې د صحت، پلونو، د اوبو شبکو او سړکونو په برخو کې د ۳۵ پروژو د پیل شاهدان یو، چې إن شاءالله د دغو پروژو په بشپړېدو سره به د خلکو ډېرې ستونزې هوارې شي. د سیمې ولسي مشرانو د اسلامي امارت له خوا د دغو پروژو پیل ته خوښي وښوده او وې ویل، چې دا د متوازن انکشاف، سوکالۍ او د اشغال پر وړاندې د خلکو د کلونو قربانیو عملي څواب دی. دوی غوښتنه وکړه چې دا ډول خدمتونه دې د کونړ نورو سیمو ته هم وغځېږي، تر څو د خلکو اړتیاوې لا ډېرې پوره شي.

هرات کې سړکال ۷۰ ...
د هرات اوسېدونکي، مظفري وویل: ((دا پروژې د هرات د خلکو لپاره اړینې دي. موږ یې هرکلی کوو.)) د هرات بل اوسېدونکي، نادرعلي رحیمي وویل: «شرکتونه باید دا پروژې په ښه کیفیت سره تطبیق کړي.» د دغو پروژو ترون کوونکي شرکتونه وایي: د کار له خرنګوالي یې په ورځني ډول څارنه کېږي، چې پروژې په ښه کیفیت سره پلې شي. د ترون کوونکي شرکت مسئول، احمد فواد فقیري وویل: ((هغه کیفیت چې موږ په پام کې نیولی، هغه نړیوال معیار دی.)) د ترون کوونکي شرکت بل مسئول، فیروز احمدي وویل: ((کله چې موږ له ښاروالۍ پروژه اخلو، هغوی خپل ځانګړي شرایط لري او موږ خپل کار د هماغو شرایطو پر بنسټ پر مخ وړو.)) تېرکال هرات ښاروالۍ د نږدې یو میلیارد افغانیو په لګښت په دغه ښار کې ۱۶۰ سترې او کوچنۍ پروژې پلې کړې وې.

د سپېڅلې لارې د شهیدانو...
که چېرې شهیدانو خپلې وینې د ګران هېواد د خپلواکۍ، هېوادپالنې او دینداري لپاره نه وای نذرانه کړې، نو افغانان به د آزادۍ او خپلواکۍ لرونکي نه وای، نو پردې بنسټ شهیدان پر موږ ډېر حقونه لري او موږ ته ښایي چې د دوی حقونه پر ځای او درناوی یې وکړو، شهیدان نه مري. دوی په معنی کې ژوندي دي، څومره چې د دوی درناوی وشي هغومره زموږ او زموږ د ټولنې اعتبار د پاک خدای(ج) د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو پر وړاندې ډېرېږي.
نو په ټولیزه توګه پتمن هېوادوال د پاک الله (ج) له دربار څخه هیله کوي چې د محرم الحرام میاشتې د لسمې، یعنې په ۶۱ هجري سپوږمیز کال د باطل پرووړاندې د کربلا په جګړه کې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم له لمسي حضرت امام حسین (رض) سره د ۷۲ تنو یارانو د مظلومانه شهادت له برکته دې، د هېواد د ساتنې او دفاع په لاره کې چې هر څومره افغانان شهیدان شوي وي، د دوی روح دې هم تل ښاد او جنت فردوس دې ورپه برخه کړي، همداراز رب العالمین دې د اسلام د لارې د ربښتینو شهیدانو په برکت زموږ ګران هېواد سرلوړی افغانستان هم تل آباد او ودان لري، ترڅو افغان پتمن او غیرتي ولس هم په بې ساري نیکمرغۍ، هوساینه او سوکالۍ کې په بشپړه خوښۍ او خوشحالۍ د ژوند چارې سمبالې او پرمخ بوزي او د پاک خدای (ج) له ورکړې خوږ ژوند څخه په سمه توګه خوند واخلي او هم د پاک الله (ج) عبادت په سمه طریقه اداء کړي.

امارت اسلامی افغانستان...
متأسفانه که دوری بعضی کشورها به خصوص امریکا و کشور های استکباری جهان در ادامه همین سیاست های غلط و نادرست خویش در برابر امارت اسلامی افغانستان که به اثر فداکاری، خود گذری و به اساس اراده قاطبه مردم مؤمن و قهرمان افغانستان در این سرزمین مرد خیز و حماسه آفرین تشکیل گردیده و به دوره های سیاه وحشت ،استبداد و اشغال خاتمه بخشیده است،جبهه گیری نموده و می خواهد با استفاده از فشارهای سیاسی و تحریم های اقتصادی یکبار دیگر حضور خود را به نحوی از انحا به این کشور مجاهد پرور تثبیت نماید که این آرمان را به گور خواهند برد.
آنها خلاف توافقنامه دوحه تحریم های زیادی را علیه امارت اسلامی افغانستان وضع کرده اند و همواره تأکید می ورزند گویا تا زمانی که امارت اسلامی افغانستان به خواسته های کشور های مغر ض سازش ننماید، این تحریم ها ادامه خواهد داشت. در واقع جامعه جهانی در راس امریکا برای اینکه امارت اسلامی افغانستان به خواسته ها و فرمایشات آنها عمل نکند، تحریم ها را ادامه می دهند و تلاش می نمایند تا از طریق اهرم فشار، منافع ستراتیژیک شانرا در افغانستان تامین نمایند. در حالی که امارت اسلامی افغانستان یک کشور آزاد و مستقل می باشد، نه در امورات کشور های خارجی دخالت میکند و نه به سایر کشور های خارجی این حق را می دهد که در امور حکومتداری داخلی افغانستان مداخله کند.
کمتر از چهار سال از پیروزی امارت اسلامی افغانستان می گذرد و یگانه راهی که تمام مشکلات را حل می سازد تعامل با افغانستان می باشد.
بناءً جامعه جهانی در راس امریکایی ها باید هرچه زودتر این تحریم های وضع شده را لغو کرده و برای پایان چالش ها و بحران های موجود تعامل با امارت اسلامی افغانستان را روی دست گیرند،زیرا در صورت تداوم این تحریم ها، زیادتر بالای مردم مظلوم افغانستان اثر می گذارد، در آنصورت مقصر اصلی آن جامعه بینالمللی خواهد بود. بی توجهی به چالش ها و مشکلات شهروندان کشور از سوی جامعه بینالمللی برای قاطبه مردم افغانستان قابل قبول نبوده و باید مسئولیت های جهانی خود را در قبال اوضاع زندگی آنها بی طرفانه انجام بدهند. در غیر آن به سود هیچ طرفی نبوده بلکه با گذشت هر روز دامنه مشکلات شهروندان را چند برابر ساخته از این رو تا وقتی که این تحریم ها برداشته نشود و تعامل صورت نگیرد،چالش ها و بحران ها بیشتر شده میرود و قربانی اصلی این تحریم ها مردم فقیر و مظلوم افغانستان خواهند بود.
امارت اسلامی افغانستان نزدیک به چهار سال از پیروزی اش میگذرد و با دیپلوماسی فعال روابط سیاسی ، اقتصادی و فرهنگی خود را با کشور های منطقه بر قرار کرده است. امیدواریم که کشور های دیگر نیز از این اقدام روسیه برای به رسمیت شناختن امارت اسلامی افغانستان پیروی کنند.

Hewad Daily

دوشنبه د محرم الحرام ۱۱ مه ۱٤٤۷ق کال | د چنګاښ ۱٦ مه ۱٤۰٤ ل کال | د 2025م کال د جولای ۷مه

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲٦۳٤۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦-۰۷۳٦۰٦۰۷۳

دورځپاڼو رئیس : انجنیر عُزیر «بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲٦۳٤۰
مسئول مدیر : شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

د مسلمانو علماوو د نړیوالې ټولنې مشر:

د روسیې له لوري د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې هرکلی کوو

د مسلمانو علماوو د نړیوالې ټولنې مشر ډاکټر علي قره داغي د روسیې له لوري د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې له پرېکړې هرکلی کړی او له اسلامي هېوادونو یې د ورته اقدام غوښتنه کړې ده. نوموړي ویلي: ((موږ د روسیې له لوري د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې هرکلی کوو او دا پرېکړه یې د افغان ولس ارادې ته درناوی دی. پر اسلامي هېوادونو غږ کوو، چې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه کې ګام پورته کړي.)) د مسلمانو علماوو د نړیوالې ټولنې مشر زیاته کړې: اسلامي امارت هغه حکومت دی، چې د قربانیو په پایله کې رامنځته شوی او خپل مشروعیت یې له ولس څخه اخیستی دی. له بل لوري د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت هم د روسیې ۳ مخ

د کډوالو چارو وزیر:

هرات او نیمروز کې د راستنېدونکو افغانانو لړۍ مدیریت شوه

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر د یاد وزارت اداري ناسته کې له ایران څخه د افغانانو د راستنېدنې لړۍ د ارزونې او د حل شویو ستونزو په اړه خبرې کړې دي. د کډوالو چارو وزارت د خبر له مخې ناسته کې د کډوالو چارو وزیر ویلي: له شته ظرفیتونو دې اغېزمنه ګټه واخیستل شي. مولوي عبدالکبیر ویلي: له ولایتي مسئولینو سره په همغږۍ یې هرات او نیمروز کې د راستنېدونکو افغانانو لړۍ مدیریت کړې او په کمه موده کې پر وضعیت برلاسي شوي دي. نوموړي د کډوالو عالي کمېسیون سره په لا ډېرې همغږۍ ټینګار کړی او اړوندو مسئولینو ته یې سپارښتنه کړې، چې هرات کې دې د ستونزو حل ته جدي پام وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې تېرو ۱۲ ورځو کې د هرات اسلام کلا له لارې ۳۰۰زره ۳ مخ

پکتیا کې د یوه روغتون د نیمګړو چارو بیا پیل

د پکتیا په جانیخېلو ولسوالۍ کې د ۳۰ بستریز روغتون د ودانۍ چارې چې د تېر حکومت له وخته نیمګړې پاتې وې، بیا پیل شوې. د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو مرستیال عبدالولي حقاني پرون وویل: د یاد روغتون د ودانۍ چارې ۷۰ سلنه د تېر حکومت پرمهال

ترسره شوې وې او پاتې کارونه یې د ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت د عامې روغتیا وزارت له خوا تازه پیل شول. ده وویل: د هېواد په کچه د روغتیا ملي پالیسي بشپړه شوې او اوسنی حکومت په ټول هېواد کې عادلانه روغتیایي خدمتونو ته ژمن دی او هڅه کوي، چې لرې پرتو او له خدمتونو بې‌برخې سیمو ته روغتیایي خدمتونه برابر کړي. د ده په وینا: د یاد روغتون په بشپړېدو سره به د جانیخېلو ولسوالۍ خلک روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ولري. د پکتیا ۳ مخ

لوګر کې پر ۵۱ زرو زده‌کوونکو درسي توکي وېشل کېږي

د لوګر د پوهنې ریاست مسئولین وايي، چې د ماشومانو لپاره د ملګروملتونو ملاتړې اداري (UNICEF) له لوري د ۳۱ میلیونو افغانیو په ارزښت مرسته شوي کتابونه به د ښوونځیو پر زده‌کوونکو ووېشل شي. د دغه ولایت د پوهنې ریاست ویاند شاهپور عرب وايي: ((دغو درسي کتابونو او درسي موادو کې ۱۱۸٦۹۸ توکه درسي کتابونه، ۲۵۸ کېټه اداري مواد، ۲۰۰۳ کېټه د ښوونکو درسي مواد، ۲۵٦۵ کېټه د زده کوونکو درسي مواد او ځینې نور ښوونیز توکي شامل دي، چې د پوهنې آمریتونو له لارې به د ۲۸۸ ښوونځیو د اصول صنفي پر ۲۰۰۳ ښوونکو او ۵۱۳۰۰ زده کوونکو ووېشل شي.)) نوموړي زیاته کړه: یاد کتابونه او درسي توکي د ولسوالیو آمریتونو ته رسېدلي او ډېر ژر به پر زده کوونکو او ښوونکو ووېشل شي. عرب زیاتوي: د یادو کتابونو او درسي ۳ مخ

پنجشېر کې د ترافیکي پېښې له امله ۳ تنو ژوند بایللی

د پنجشېر په پریان ولسوالۍ کې د یوې ترافیکي پېښې له امله ۱۰ کسانو ته د مرګ ژوبلې اوښتو خبر ورکړ شوی دی. د پنجشېر د والي ویاند سیف الدین لټون ویلي چې دغه پېښه د یاد ولایت د پریان ولسوالۍ په کوتل بام وردار سیمه کې د یوه فلانکوچ موټر د چپه کېدو له امله رامنځته شوې چې په پایله کې یې ۳ تنه مړه او ۷ تنه نور ټپیان شوي دي. نوموړي ویلي، چې د پېښې ټپیان د رخې او عنابې ولسوالیو روغتونونو ته لېږدول شوي دي.

افغاني سرې میاشتې ټولنې میدان‌وردګو کې له سېلاب‌ځپلیو سره مرسته وکړه

د افغاني سرې میاشتې ټولنې مسئولین وايي، چې د میدان وردګو ولایت په چک ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنو شویو کورنیو سره بېړنۍ مرستې شوي دي. د افغاني سرې میاشتې ټولنې د سوېل‌ختیځ زون رئیس مولوي سیدمنهاج الدین هاشمي په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې وویل: د یاد ولایت په چک ولسوالۍ کې مو له ۴۴ سېلاب‌ځپلیو کورنیو مرسته کړې ده. هاشمي زیاته کړه: هرې سېلاب‌ځپلې کورنۍ ته د سرپناه لپاره خېمې، ترپالونه، د اشپز خانې کېټونه، غنم او نور خوراکي توکي ووېشل شول. د نوموړي په وینا، په نږدې ورځو کې به ددغه ولایت په نرخ ولسوالۍ کې هم په ورته ۴۱ سېلاب‌ځپلیو ۳ مخ

د هېواد ۱۷ولایتونو کې د بارانونو او سېلابونو راوتلو اټکل

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د هوا پېژندنې اداري د هېواد ۱۷ولایتونو کې د تېز باران، تالندې، برښنا او تېزو بادونو او سېلابونو راوتلو اټکل کړی دی. د هوا پېژندنې اداري د خبر له مخې یادو ولایتونو کې نورستان، کونړ، ننګرهار، لغمان، کابل، کاپیسا، پنجشېر، پروان، لوګر، غزني، بامیان، میدان وردګ، زابل، پکتیا، خوست او پکتیکا شامل دي. یادې اداري د باران ۳ مخ

ډنډپټان سرحدي ګمرک کې د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري، د ۸.۸ میلیونو افغانیو په لګښت د پکتیا په ډنډپټان ګمرک کې د ۹۰ کیلوواټه په ورتیا، د لمریزې برېښنا سیستم جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یادې لمریزې برېښنا سیستم په فعالېدو سره به تخنیکي ستونزې راکمې او په کلني ډول به په میلیونونو افغانۍ سپما شي. هېره دې نه وي چې ۳ مخ

کندهار کې د اوبو لویه شبکه جوړه شوه

د کندهار ځايي مسئولینو خبر ورکړی، چې د کندهار په دوولسمه ناحیه کې د پاکو اوبو رسولو یوه لویه شبکه جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د دې ولایت رسنیز دفتر ویلي، چې دا شبکه د مالیې وزارت په پراختیایي بودیجې د ۴۲۳ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې. یاد رسنیز دفتر زیاتوي، چې د اوبو دا شبکه به د سیمې ۷ زره کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه ورسوي. د یادونې وړ ده، چې هېوادوالو ته د پاکو اوبو او کرنیزو ځمکو ته

د خړوبولو اوبو پراختیا د اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه دي او دې برخه کې یې ګڼې لویې پروژې پلې کړې دي.

بدخشان کې ښوونځي ته ودانۍ جوړېږي

د بدخشان د راغستان ولسوالۍ په دهګه سیمه کې د خلکو په مالي ملاتړ یوه ښوونځي ته د ودانۍ د جوړولو چارې پیل شوې دي.د راغستان ولسوالۍ اړوند د دهګه ښوونځي مدیر عبادالله نذیري باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې یاد ښوونځي ته د ولسي خلکو په مالي ملاتړ د یو میلیون ۲۰۰ زره افغانیو په لګښت د ودانۍ د جوړولو

چارې پیل شوي، چې په نږدې راتلونکي کې به بشپړه او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. د نوموړي په وینا یاده ودانۍ به ۶ درسي خونې او نور اړین ملحقات ولري. ۳ مخ

هرات کې سږکال ۷۰ پراختیایي پروژې پلې کېږي

هرات ښاروالي وايي: سږ کال دغه ښار کې د نږدې ۹۰۰ میلیونو افغانیو په لګښت د ۷۰ پراختیایي پروژو چارې پیلوي. دغو پروژو کې پر سړکونو، ویالو او ګلدانونو جوړولو سربېره د ښار روښانتیا او چاپېریالي زرغونتیا هم شامله ده، چې د هرات ښار ټولو برخو کې به پلې شي. د هرات ښاروالۍ ویاند، محمد ناصر ارمل رسنیو ته ویلي: «موږ د ۱۴۰۴ مالي کال لپاره ۷۰ پراختیایي او بنسټیزې پروژې په پام کې نیولي، چې لګښت یې نږدې ۹۰۰ میلیونه افغانۍ کېږي او بودیجه یې له پراختیایي او له ۱۴۰۳ څخه ۱۴۰۴ کال ته له انتقال شوې ذخیروي بودیجې تمویلېږي.)) د هرات ځینې اوسېدونکي له ښاروالۍ غواړي، چې دغه پروژې په معیاري ډول پلې کړي. ۳ مخ

کونړ کې ۳۵ پراختیایي پروژې عملي کېږي

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د سرحدي چارو معین الحاج مولوي محمد اسماعیل غزنوي، چې د یاد وزارت یو شمېر نورو مسئولینو یې ملتیا کوله، د کونړ ولایت په هغو ولسوالیو کې چې د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه پرتې دي، د ۱۳۱ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۶۸ منظورو شویو

پروژو له ډلې، د ۳۵ پراختیایي پروژو چارې په داسې حال کې پرانیستلې، چې د کونړ والي ښاغلي مولوي ۳ مخ